ژباړه : رحمت آریا ۲۰۱۱ زکال، مې، ۱۱

افغانستان : څو اړخیزې اړیکې

لیکوال: بروس ریچاردسن

دوه ګونې پالیالی [1] : له دې چې د احمد شاه مسعود د پورتنۍ کړۍ اندیوالان د کلیدي پوستونو په راخپلولو اوس د حامد کرزي په اداري کې د حکومت د لوړ پوړو مقاماتو په توګه کار کوي، د هېواد د راتلونکي تګلارې لپاره چې په هېنداره کې یې یو خپلواک، ولسواک او ناپېېلی افغانستان ولېدل شي د دغو کسانو د سیاسي او ایدیالوژیکي تګلوري پېژندنه او مخېنه خورا اړېنه او حیاتي ده.

افغانستان ته د نورو بې شمېرو ستونزو تر څنګ بدشګوني دا ده چې د مسعود د تګلارې لارویانو له امریکا، روسیې، هند او ایران سره د نېږدو اړیکو په لرلو ددغه هېواد د حکومت په لوړو کلیدي څوکېو ډډه لګولې او یا لږ څه وړاندې یې په دغو کلیدي پُستو کې کار کړی دی د بېلګې په توګه : د بهرنیو چارو وزیر (ډاکټر عبدالله عبدالله)، د کورنیو چارو وزیر (یونس قانوني)، د پلان وزیر (محمد محقق)، د دفاعي چارو وزیر (محمد قسیم فهیم)، د ښاري پراختیا وزیر (حاجي قدیر) او (امرالله صالح)، د افغانستان د څارګرې اداري « استخباراتو» رئیس ؛ په دې وروستیو کې څرګنده شوه چې صالح د پاکستان پر وړاندې بلوڅي بیلونپال روزل او هغوی یې په وسلو سمبالول. د تأریخ پوهانو به په یاد وي چې ټګمار ډاکټر عبدالله عبدالله[2] د ۲۰۰۱ ز کال په دوبي کې د برلین په کنفرانس کې ګډون وکړ، د برلین په دغه کنفرانس کې ول چې پر افغانستان باندې د امریکا د برید د پلان له مخې څادر لېرې شو، او حاجي قدیر هماغه حاجي قدیر دی چې بن لادن ته یې افغانستان ته د ننوتلو او هغه ته یې د دایمي پاتې کېدلو لاره هواره کړه؛ هېواد – مشر حامد کرزی هماغه حامد کرزی دی چې په خپله یو وخت د مسعود همکار وو. پورتني یاد شوي کسان د هماغو کسانو یوه ګډوله ده چې د پخوا په شان تر دغه دمه یې هر چا ته د پالیالی « وفا» سر ښورولی او په ټولېز ډول د شمالي ټلوالې په نامه پېژندل کېږي؛ دا هغه کسان دي چې د خپلو دایمي میرځمنو د درې وړې کولو په موخې د بهرنیو دولتونو (د شوروي اتحاد سوسیالیستي جمهوریتونو او امریکا) د پوځي جاسوسۍ په ځالګیو کې ښکېل او وروسته یې د هېواد د سیاسي او اداري چارو د کنترول پر واګو ډډه ووهله.

هماغسې چې د سړي جګړې په لړ کې د افغانستان څېړانده تأریخ او د پورتنیو کسانو بایوګرافي تائیدوي، د بهرنیو څارګرو ادارو د پانګو «جاسوسانو» یا «ایجنټانو» په لاسونو دغه هېواد ته ورپېښ شوي ورانۍ نورې له شماره وتلي دي. په اپورچونیزم کې یې سیالو روسیې پټو خدماتي ادارو (کې جي بي، جي. آر. یو KGB, GRU) مسعود استخدام کړ، د مسعود د استخدام پایله د جګړې پر دوام واوښتله چې په دې لړ کې نه یوازې بې شمیره افغانان ووژل شول بلکه خپله آزادي یې له لاسه ووتله او د هېواد بنسټونه یې هم درې وړې شول.

احمد شاه مسعود، انقلابي او شوروي ایجنټ :

لومړنۍ اړیکې : که څه هم ادعا شوې چې د یوه زده کوونکي په توګه له مارکسیست – لنینستو افکارو سره په شوروي جوړ شوي او د شوروي په استادانو او سلاکارانو چلېدونکي پولیتخنیک انستیتیوت کې آشنای شوی خو اوس ټولېز باور دا دی چې د روسانو له څارګرو ادارو سره د احمد شاه مسعود لومړني اړیکې په لبنان کې د ۱۹۷۰ ز لسېزې د وروستیو په شاو خوا کې ټینګ شوې ول. (Shebarshin, 177-214).

د « ۱۹۷۳ – ۱۹۷۵ ز» په لړ کې د داؤود [خان – ژ] پر وړاندې د ناکامې کودتا له توطئې، او په وسلوال پاڅون کې له ګډون وروسته مسعود «مصر، لیبیا او لبنان» ته مهاجر شو او د فلسطین د پوځي ډلو د یوه غړي په توګه یې په پوځي او ترهګرو عملیاتو کې په فعاله توګه ونډه واخېستله. هغه مهال چې مسعود په لیبیا کې وو، هلته یې د شوروي په روزنیزو مرکزونو کې د ګوریلایي او سبوتاژ «تخریب» زده کړې تر لاسه کړې.(Shebarshin, 177-214)

---

[1] **dual loyalty :** دوه اړخیزه وفا : په سیاست کې دوه ګونې پالیالي هغه چلند ته وایي چې یو څوک یا یوه ډله دداسې دوه وو خواوو ګټو ته له ځانه پالیالي « وفا» را څرګنده کړي چې د دواړو خواوو ګټې له بل سره په ټکر کې وي. ددې اصطلاح یوه کلاسیکه بېلګه دوه ګونې تابعیت دی او یا د مهاجر په توګه په بل هېواد کې ژوند. په انګریزي کې د immigrant او refuge د مدنی حالت ترمنځ توپیر شته. په پښتو ماناوو کې refuge کډوال ژباړل شوی او د immigrant لپاره له مهاجر پرته بله مانا نه لرو. هر ګوره، دوه ګونې پالیالي یوازې په سیاست کې نه بلکه په دین، مذهب، فرهنګ او په سیاسي اړیکو کې هم لیدل کېږي چې د خپل دویم هېواد د ګټو په پرتله خپل یا د بل هېواد ګټو ته پالیاله وي. بېلګه یې د فرانسې په ستروا کې کې درییم ناپیلیون دی چې د ژوند په لومړي پړاو کې چې د آستریا پر وړاندې د ایتالیا د مقاومت غړی وو. نورې بېلګې یې په دویمې نړۍ والې جګړې کې هغه امریکایان ول چې لومړنۍ تابعیت یې یا جاپاني وو یا جرمني. او نور. برعکس دلته د لیکوال موخه هغه ډله افغانان دي چې د خپل هېواد د ګټو پر خلاف د نورو هېوادونو ګټو ته پالیاله دي، دوی د خپل مورنۍ ټاټوبي د ملي ګټو پر وړاندې د نورو ښکېلو هېوادونو ګټو ته لومړیتوب ورکړی دی. [ژ]

[2] wily Dr. Abdullah Abdullah

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د تأریخ په هغه پړاو کې فلسطیني پوځي ډلې د کې جي بي تر لاس لاندې راغلې او د کې جي بي له پلوه څارل او تمویلیدلې. اولګ کالوګلین [3] د کې جي بي د بهرنۍ جاسوسۍ ضد اداري پخوانۍ تورن جنرال دی؛ نوموړی وایي « کې جي بي له فلسطینیانو، په لبنان، افریقا او نورو ځایونو کې له نورو ډلو سره چې د نورو په اند تش په نامه ترهګرې ډلې بلل کېږي ډېر نېږدې اړیکې درلودل.» هغو بېلابېلو ګوریلایي ډلو چې په خپلو تګلارو کې بې د مارکسیزم نښې نښانې له ځانه راڅرګندولې هغوی ته به وسلې، نقدې پیسې او پوځي سلاکاران په پرله پسې ډول ورلېږل کېدل. ددغو ډلو په منځ کې د کې جي بي ایجنټان او سلاکاران ځای پر ځای ول چې ددوی د عملیاتو د بولنې او کنترول هرګام اوچتولو ته بې آسانتیاوې رامنځته کولې او د هرګام جزئیات بې ورښودل. ددغو پوځي ډلو په منځ کې د کې جي بي اغېزه تر هغې کچې ژوره او بشپړه وه چې « ان له رئیس یاسر عرفات سره پېاوړې اړیکې ټینګ شول.». (Kalugin, 163-164).

د کې جي بي تر کنترول لاندې ډلو ورځنۍ چارې سرې تښتونې او د لوړ پوړ چارواکو د وژنې عملیات ول. ددغو ډلو له منځه د راتلونکې لپاره او په نورو ځایونو کې د هغوی د پلې کولو په موخه د ایجنټانو استخدام د کې جي بي یو دودیز« متعارف» کار وو.(Kalugin 163-164)

په هغه مهال کې چې هره سیاسي – پوځي پېښه رامنځته شوې د کې جي بي د افسرانو [case officers [4] له مخکینۍ منظورۍ او خبرتیا پر ته نه ده رامنځته شوې. د کې جي بي په اصطلاحاتو کې دا ډول چارې ددوی د مأمورینو له خوا جوړې او سمبالیدلې چې د « فعالو اقداماتو [5] » په نامه بلل کېږي.

د سړې جګړې بولتن [6] یو وخت ویلې ول : که څه هم پر افغانستان باندې د برخه لېک جوړوونکې برید، پلان پریکړه نه ده نېول شوې خو د اوسمهال په اډانه کې د مسکو له پلوه یو شمېر سنجونې، احتمالي پلانونه، خبرې اترې او ارزونې په پرله پسې ډول تر لاس لاندې نېول شوې دي.

د تأریخ په هغه پړاو کې مسعود کومه پېژندل شوې سیاسي څېره نه وه، مسعود، نه په افغانستان کې او نه په نړۍ والې کچه چا پېژانده؛ د مسعود نومیالیتوب د لوېدېزو ژورنالیستانو کار وو چې یوه جعلي اتلواله څېره بې ورڅخه جوړه کړه. دا چې څه شي د کې جي بي پاملرنه ده ته را اړولې کیدای شي له څو اړخونو ورته وکتل شي. لومړی دا چې یو بهرنی « مهاجر» افغان د عرب جنګیالیو په لیکو کې وو، دویم، مسعود په خپله مخکې له څارګرو ادارو سره د کار کولو استعداد او لیوالتیا درلودله چې بېلګه بې د داؤود [خان - ژ] پر وړاندې د شنډې کودتا په پلان کې له آی اس آی سره د هغه نېږدې اړیکې ول، مګر تر ټولو مهمه خبره د مسعود خپله ادعا وه چې د چیګویرا [7]، مائو، فیدل کاسترو او نورو کینې لاسو انقلابیونو پر ایدیالوژیکې تګلارو بې ګروهه «اعتقاد» درلوده. (Richardson, 30-32).

یاددښت لېکونه

The Hand of Moscow, Leonid Shebarshin, Moscow, Progress Press, 1992

The First Directorate, My 32 Years in Intelligence and Espionage against the West, Oleg Kalugin, New York, St. Martin's Press, 1994.

The Bulletin, Cold War in History Project (CWIHP), Woodrow Wilson International Center for Scholars, Washington, D.C., fall, 1994.

Afghanistan, A Search for Truth, Bruce G. Richardson, Free-Forum Publications, Freeport Me, 2009 Pashto Translation Rahmat Arya Kabul 2010

بروس ریچاردسن پای

---

[3] Oleg Kalugin

[4] - case officer : هغه څارګر مأمور دی چې د ایجنټانو او څارګرو ځالګیو په منجمنټ کې بې ځانګړې روزنه تر لاسه کړې وي. دا مأمورین، انساني جاسوسان او د انساني جاسوسانو د ځالګیو چارې سمبالوي. دا مأمورین دنده لري چې پیاوړې ایجنټان، د راتلونکو چارو لپاره استخدام کړي. همدا شان دوی په سوداګریزو چارو کې ایجنټان روزي. [ژ]

[5] Active measures: فعاله اقدامات : د تعریف له هغو د اغېزمنو ګامونو ته ویل کېږي چې د یوه دولت یا یوې ځالګې له خوا د اوسني حالت د بدلولو لپاره په دې موخه اوچتیږي چې اوسنی حالت ددوی په زړه یوه بل غوره حالت ته بدل کاندي. [ژ]

[6] Cold War in History Project *Bulletin*, 75-76, Fall 1994)

[7] Che Guevara

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ